د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 515

(26 غویی - 02 غبرګولی 1405 هـ ش)

## چین ته د متحده ایالاتو د جمهور رئیس د سفر ارزونه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- چین ته د متحده ایالاتو د جمهور رئیس د سفر ارزونه ........................................................ 3
- چین ته د ټرمپ د سفر موخې ........................................................................ 3
- د ایران په جګړه کې له چین د همکارۍ غوښتنه ........................................................ 4
- سوداګریزه جګړه څنګه مدیریت کړای شي؟ ........................................................ 5
- په منځني ختیځ کې راتلونکې ټکنالوژیکې سیالي ........................................................ 6
- د تایوان قضیه ........................................................................ 7
- چین د اړیکو نوی چوکاټ اعلان کړ(ستراتیژیک ثبات) ........................................................ 8
- پر افغانستان یې اغېزې ........................................................................ 8
- پایله ........................................................................ 9
- سرچینې ........................................................................ 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## چین ته د متحده ایالاتو د جمهور رئیس د سفر ارزونه

### سریزه

د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ۲۰۲۶م کال د مې په ۱۴–۱۵ نېټو بیجینګ ته ولاړ او هلته یې د چین له ولسمشر شي جېن پېنګ سره وکتل. دغه سفر د متحده ایالاتو او چین ترمنځ د اړیکو د ثبات لپاره مهم بلل کېږي. په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو د مشرانو ترمنځ پر سوداګریز اختلافاتو او تعرفو، د تایوان پر مسئله، د ایران- متحده ایالاتو او صهیونستي رژیم پر جګړې او د منځني ختیځ او هرمز تنګي پر راتلونکي، مصنوعي ځیرکتیا (AI) او ټکنالوژۍ او ستراتیژیکو سیالیو خبرې وشوې.

ټرمپ د چین له لوري د امریکایي الوتکو او کرنیزو محصولاتو د پېرلو خبره وکړه، خو واضح او نهایي تړونونه اعلان نه شول. چین هڅه وکړه ځان د یو ثابت او مسؤل نړیوال ځواک په توګه وښیي، په داسې حال کې چې امریکا متحده ایالات د ایران جګړې او نورو نړیوالو بحرانونو له امله تر فشار لاندې دي.

له تاریخي اړخه، دا د ټرمپ دوهم رسمي سفر و؛ هغه لومړی ځل په ۲۰۱۷م کال کې هم چین ته تللی و. په دې تحلیلي لیکنه کې به چین ته د متحده ایالاتو د جمهور رئیس ټرمپ سفر و ارزوو او دا به هم روښانه کړو چې د دې سفر پرمهال دواړو لوریو په کومو شیانو هوکړې وکړې او پر کومو موضوعاتو سره پایلې ته ورسېدل. همدارنګه دا به هم روښانه شي چې دې سفر په نړیوالو او سیمه ییزو بحرانونو کومې اغېزې درلودې.

### چین ته د ټرمپ د سفر موخې

ټرمپ چین ته داسې وخت سفر وکړ چې امریکا په ګڼو جبهو کې راګیر ده؛ له ایران سره جګړه، د اوکراین اوږده جګړه، کورنۍ اقتصادي ستونزې او له چین سره ستراتیژیک رقابت.

پداسې حال کې چې د ایران جګړه لا نه ده حل شوې، ټرمپ د لوړپوړو امریکایي چارواکو او د سترو سوداګریزو کمپنیو د مشرانو په ملتیا چین ته سفر وکړ. همدا مسئله دا پوښتنه راپورته کوي چې په دې حساس پړاو کې چین ته د امریکایي مشرانو د سفر موخه څه ده؟

که د چین او امریکا اړیکو ته یوازې د سیالۍ له زاویې ونه کتل شي، ښکاري چې دواړه قدرتونه د رقابت تر څنګ ژورې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې هم لري. د نړۍ تر ټولو ستره تجارتي راکړه ورکړه د همدې دواړو هېوادونو ترمنځ ده او په عملي ډول یو له بله بشپړ بېلېدل ورته اسانه نه دي.

په ۲۰۲۴ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د توکو سوداګرۍ شاوخوا ۶۵۸ میلیارده ډالره وه. د ټرمپ له بیا واک ته رسېدو وروسته پر چینایي توکو ګڼې تعرفې ولګېدې، خو سره له دې امریکا په ۲۰۲۵ کال کې هم له چین څخه د ۳۱۸ میلیارده ډالرو په ارزښت توکي وارد کړل،[1] چې ډېره برخه یې الکترونیکي وسایل او نادر


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

معدني مواد وو. بل لور ته، چین هم په همدې کال کې له امریکا څخه د ۱۰٦ میلیارده ډالرو په ارزښت توکي وارد کړي، چې ډېره برخه یې د امریکایي بزګرانو سویا او نور زراعتي محصولات دي. دا شمیرې ښیي چې د سیاسي او پوځي رقابت ترڅنګ، اقتصادي اړتیاوو لا هم دواړه هېوادونه یو له بل سره تړلي ساتلي دي.

دغه راز د دواړو قدرتونو ترمنځ یو بل حساس او خطرناک ټکی هم شته؛ تایوان. امریکا هڅه کوي تایوان د مهار وسیلې په توګه وکاروي او له چینه سیاسي او اقتصادي امتیازات ترلاسه کړي، خو په ورته وخت کې دا وېره هم لري چې چین پر تایوان برید و نه‌کړي او په یوه بله جبهه کې ګېر نه شي.

اوس امریکا له دوو سختو انتخابونو سره مخ ده: د «چین مهار» او «د امریکا اقتصادي ثبات.» پداسې وضعیت کې چې امریکا د ایران په جګړه کې میلیاردونه ډالر لګولي او نړیوال پرستیج ته یې زیان رسېدلی، نه غواړي له چین سره یې رقابت حساس پړاو ته ننوځي. له همدې امله واشنګټن هڅه کوي د رقابت، مهار او اړیکو ګډ سیاست پر مخ یوسي؛ یعنې له یوې خوا پر چین فشار وساتي او له بلې خوا د مستقیم ټکر مخه ونیسي.

دواړه هېوادونه له یو بل سره په سخت رقابت کې دي او متقابل اعتماد نه لري. امریکا هڅه کوي د چین د پوځي او ټکنالوژیکو پرمختګونو په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړي، ځکه یې څو ځله د ګډو پوځي تمرینونو او پوځي میکانیزمونو د رامنځته کولو غوښتنه کړې ده. په دې اړه ټرمپ له فاکس نیوز سره په خبرو کې ویلي و چې، دوی له مونږ او مونږ له دوی جاسوسي کوو.

بل لور ته، شي جین‌پنګ هم ښه پوهېږي؛ چې امریکا په څو جبهو کې بوخته ده، اقتصاد یې له ستونزو سره مخ دی، پر چین اقتصادي تکیه لري، له ځینو پخوانیو متحدینو سره یې اړیکې کمزورې شوي او کورنۍ سیاسي ستونزې لري، ځکه خو شي جین‌پنګ ټینګار وکړ چې دواړه هېوادونه باید هڅه وکړي د «توسیدید دام» تر کنټرول لاندې وساتي.

په ټوله کې، امریکا هڅه کوي چې له چین سره د مستقیم کړکېچ مخه ونیسي، ځکه واشنګټن نه غواړي د ایران، اوکراین او نورو نړیوالو فشارونو ترڅنګ، د نړۍ په کچه بله ستره او خطرناکه سیالي چې د امریکا بقا ته ګواښ وي پیل کړي.

په لنډ ډول ویلای شو چې چین ته د ټرمپ د سفر موخې په دې ډول وې: د سوداګریزې جګړې د فشار مدیریت، د امریکایي شرکتونو لپاره د امتیازاتو اخیستل، د ایران د جګړې په اړه بحث، د نویو اقتصادي اړیکو رامنځته کول او داخلي امریکایي سیاستمدارانو ته دا پیغام ورکول چې، زه کولی شم له چین سره هم معامله وکړم.

## د ایران په جګړه کې له چین د همکارۍ غوښتنه

د ایران په جګړه کې متحده ایالات په یو لوی ستونزمن حالت کې لویدلي دي، که جګړه پرېږدي دا یې مستقیمه ماتې حسابېږي او که یې نه پرېږدي، نو اوږدمهاله نړیواله جګړه د متحده ایالاتو په ګټه نه ده او

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له همدې امله ټرمپ تر سخت فشار لاندې دی. چين ښايي هغه هېواد وي چې پر ايران تر ټولو زيات نفوذ لري او امريکايي چارواکو په ځانګړې ډول ټرمپ څو ځله ترې غوښتي چې د اوسنۍ جګړې پر مهال له دغه نفوذه استفاده وکړي[2]، خو تر اوسه د بيجينګ غبرګون محتاطانه و؛ د چين تر ټولو څرګنده مداخله ښايي دا وه چې تهران يې د اپرېل د اوربند د شرايطو منلو ته هڅولی و. دا ښيي چې چينايي مشران غواړي له امريکا څخه متقابل امتيازات ترلاسه کړي.

**بيجينګ له دوه لارو له ايران څخه خپل ملاتړ څرګند کړی او همکاري يې ورسره کړې ده:**

١ .د ايران د تېلو پېرلو ته دوام ورکول؛

٢ .د ايران د پوځي هڅو لپاره پټ او غيرعلني ملاتړ برابرول چې په دې کې استخباراتي معلوماتو شريکول هم شامل دي.[3]

چين نه يوازې د ايران د توغنديو او ډرون پروګرامونو لپاره د پرزو لېږد ته دوام ورکړی، بلکې د جګړې په جريان کې يې د فضايي انځورونو برابرولو کې هم مرسته کړې، څو ايراني ځواکونه د امريکا متحده ايالاتو او متحدينو د هدفونو په اړه لا ښه معلومات ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه، ايران د چينايي جغرافيايي استخباراتي شرکتونو لکه «ميزارويژن» له تحليلي او تعقيبي معلوماتو استفاده کړې، او آن راپورونه وايي چې ايران د «TEE-01B» په نوم د چين لوړ وضاحت لرونکې استخباراتي سپوږمکۍ هم په اجاره اخيستې ده. واشنګټن د دې ملاتړونو پر ضد له ايراني تېلو بار بېړيو نيولې تر دې چې پر «ميزارويژن» او نورو شرکتونو يې بنديزونه لګولي دي[4].

د ايران د بندرونو د محاصرې او نورو احتمالي عملياتو لپاره اړين امريکايي ځواکونه ښايي د سمندري مخنيوي عملياتو ته دوام ورنه‌کړای شي. له همدې امله، ټرمپ په دغه سفر کې له شي جينپينګ غوښتي چې د ايران په جګړه کې ورسره دوه ډول همکاري وکړي: يو دا چې ايران اړ باسي تر څو د اتومي وسلو د نه جوړېدو تړون ته ننوځي او يا هم که دا کار نشي کولای، نو که د ايران او متحده ايالاتو جګړه نښلي، نو له ايران سره همکاري ونکړي.

## سوداګريزه جګړه څنګه مديريت کړای شي؟

متحده ايالاتو د ټرمپ د جمهوري رياست د لومړۍ او دويمې دورې پرمهال له چين سره سوداګريزې جګړې ته ننوت او پر چينايي توکو يې سترې تعرفې ولګولې، چې په مقابل کې يې چين هم ورته اقدام وکړ او پر امريکايي توکو يې تعرفې ولګولې. همدارنګه د ايران سره د همکارۍ له امله يې تازه پر چينايي توکو تعرفې لوړې کړې او د کمونست ګوند او حکومت پر ځينو چارواکو يې د سفر بنديزونه لګولي دي. چين ته د متحده ايالاتو د سفر بله موخه دا وه چې څنګه وکولای شي دغه سوداګريزه جګړه مديريت کړای شي او د ځينو غوښتنو په منلو سره دغه جګړه او بنديزونه پای ته ورسېږي.[5]

خو داسې فکر کېږي چې چین به د متحده ایالاتو دې ډول فشار ته تسلیم نشي او د سوداګریزو بندیزونو په بدل کې به له ایران څخه لاس په سر نشي، ځکه که چین د ایران د تېلو پېرل بند کړي، نو دا به له ایران سره د چین په اړیکو کې یو لوی بدلون وي؛ داسې بدلون چې اسلامي جمهوریت او نور حکومتونه به یې د یو شریک خیانت او د امریکایي ګټو منل وبولي، په داسې حال کې چې بیجینګ غواړي ځان د یوه قوي او د باور وړ ځواک په توګه معرفي کړي.

چین شايي دا هم محاسبه کړي چې له تهران سره اړیکې خرابول په اوږدمهال کې ډېر زیان لري، ځکه داسې ښکاري چې ایران به د فارس خلیج د راتلونکو سمندري لارو کنټرول ته دوام ورکړي؛ هغه سیمه چې د چین د نفتو نږدې پنځوس سلنه واردات ترې کېږي او د چین د صادراتو مهمه لاره هم ده، نو که چین له ایران سره اړیکې خرابوي، نو کېدای شي راتلونکي کې ایران په منځني ختیځ او فارس خلیج کې چینايي ګټو ته ګواښ رامنځته کړي.

## په منځني ختیځ کې راتلونکې ټکنالوژیکي سیالي

له کلونو راهیسې سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو میلیاردونه ډالر لګولي، څو خپل اقتصاد له نفتو متنوع او هېوادونه د مصنوعي ځیرکتیا، ټکنالوژۍ تولید او انرژۍ نوښت مرکزونه وګرځوي. واشنګټن او بیجینګ دواړه هڅه کوي پر همدې بدلون نفوذ ولري؛ هغه بدلون چې د منځني ختیځ ډیجیټلي زیربناوې، امنیتي مشارکتونه، اقتصادي تړونونه او جیوپولیټیک جهت به د راتلونکو کلونو لپاره وټاکي.

د ۲۰۲۵ کال د مې په میاشت کې خلیج ته د ټرمپ د سفر پر مهال، هغه د ټکنالوژۍ، دفاع او مهمو معدني موادو په برخه کې د میلیاردونو ډالرو تړونونه اعلان کړل. همداراز، د روان کال په مارچ کې د اماراتو سفیر یوسف العتیبه تایید کړه چې د «انویدیا» شرکت له تړون سره سم د پرمختللو AI چپونو لومړنۍ محمولې له متحده ایالاتو څخه متحده عربي اماراتو ته  رارسېدلي دي؛ د نړیوالو اړیکو د شنونکي الیزبت په وینا دا ښیي چې واشنګټن له ټاکلو خلیجي هېوادونو سره د همکارۍ پراختیا ته ژمن دی. بیجینګ ته د ټکنالوژۍمحوره پلاوي لېږل هم ښيي چې متحده ایالات غواړي چې له چین سره په ګډه ټکنالوژیکي موضوعاتو کې تفاهم ته ورسېږي او دا داسې تفاهم وي چې په منځني ختیځ کې د دوی د ټکر مخنیوی وکړي.[6]

د ایران جګړې د منځني ختیځ دا درک نور هم پیاوړی کړ چې یوازې امنیتي او دفاعي اړیکې او تړونونه بسنه نه کوي، بلکې ټکنالوژیکي بدلون او د پوځي وسایلو تولید مهم بنسټونه دي او دا چې پر ایران د جګړې د پیل پرمهال د منځني ختیځ هېوادونه په پریکړه کې نه و شامل شوي، نو د دې امکان شته چې راتلونکي ټکنالوژیکي تړونونو کې د منځني ختیځ هېوادونه چین ته مخه کړي او د همدغې باریکې د کنټرول او ټکنالوژیکي سیالۍ د مخنیوي په موخه متحده ایالاتو له چین سره په دغه برخه کې د تفاهم هڅه وکړه.

که د متحده ایالاتو او چین ترمنځ په منځني ختیځ کې ټکنالوژیکي سیالي مدیریت شي، نو به د خلیج هېوادونو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي او هغوی ته به د نړیوال AI نظام په جوړولو کې لا ستر رول ورکړي. د دوی نفوذ یوازې د مالي تمویل پورې محدود نه دی؛ بلکې د AI زیربناوو لپاره د لویو بربېښنایي سرچینو، د معلوماتي مرکزونو پراخو ساحو او د نړیوالو ټکنالوژیکو شرکتونو لپاره د مناسب مقرراتي چاپېریال برابرول هم شامل دي.

## د تایوان قضیه

ټرمپ په خپله دویمه دوره کې د تایوان په اړه نسبتاً مبهم دریځ لري، چې ورسره په امریکایي ټولنه کې دا پوښتنې راولاړې شوي دي چې ایا ټرمپ خو به د تایوان ملاتړ نه کموي؟ بیجینګ تایوان خپله بېله شوې سیمه ګڼي، خو تایوان ځان‌واکمن حکومت ګڼي چې د چین (One China Policy) له مخې تایوان د چین نه بېلېدونکې برخه او سره کړښه ده. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مارکو روبیو ټینګار وکړ چې د تایوان په اړه د امریکا پالیسۍ کې هېڅ بدلون نه دی راغلی،[7] خو اندېښنه دا وه چې ټرمپ، چې ډېرې وخت بې‌احتیاطه څرګندونې کوي، ښایي داسې خبره وکړي چې سترې جیوپولیټیکي پایلې ولري. خو ټرمپ په بیجینګ کې د تایوان په اړه هېڅ علني څرګندونه ونه کړه، سره له دې چې شي جینپینګ دا موضوع د امریکا-چین اړیکو تر ټولو مهمه برخه وبلله او هڅه یې وکړه چې ټرمپ د اړیکو د ښه کېدو په موخه په دې اړه څرګندونې ولري، خو ټرمپ ځان کنټرول کړ او په دې اړه یې څه ونه ویل، خو کله چې هغه بېرته روان و، په «ایرفورس ون» الوتکه کې خبریالانو ترې وپوښتل چې ایا تایوان ته د امریکا د وسلو ستره بسته به وړاندې لاړه شي که نه. ټرمپ وویل چې لا یې پرېکړه نه ده کړې.[8]

هغه وویل:ولسمشر شي او ما د تایوان په اړه ډېرې خبرې وکړې، هغه نه غواړي د خپلواکۍ لپاره جګړه ووینې، ځکه دا به یو ډېر سخت تقابل وي. ټرمپ زیاته کړه:ما د هغه خبرې واورېدې، خو ما تبصره ونه کړه.

د ټرمپ ادارې په ډسمبر کې تایوان ته د ۱۱ میلیارده ډالرو د وسلو بسته منظور کړې وه، خو لا عملي شوې نه ده. همداراز کانګرس په جنورۍ کې د ۱۴ میلیارده ډالرو بل تسلیحاتي پلور هم تصویب کړ، خو د عملي کېدو لپاره د ټرمپ رسمي لېږلو ته اړتیا لري.[9]

کله چې ترې وپوښتل شول چې که چین پر تایوان برید وکړي، امریکا به پوځي مداخله وکړي که نه؟ ټرمپ واضح ځواب ورنه کړ. دا هماغه پخوانۍ امریکایي تګلاره ده چې «ستراتېژیک ابهام» بلل کېږي؛ یعنې امریکا تایوان ته د دفاع وسایل ورکوي، خو دا نه وایي چې د چین د برید پر مهال به تر کومه حده پوځي مداخله وکړي.

## چین د اړیکو نوی چوکاټ اعلان کړ(ستراتېژیک ثبات)

چین اعلان وکړ چې دواړو مشرانو د «ستراتېژیک ثبات پر بنسټ د رغنده چین-امریکا اړیکو» پر نوي لیدلوري موافقه کړې ده.

د چین د بهرنیو چارو وزارت وویل چې دا چوکاټ به لږ تر لږه د ټرمپ د پاتې دورې، یعنې درې کلونو لپاره د دواړو هېوادونو اړیکې تنظیم کړي.

دغه چوکاټ به پر درې برخو تمرکز ولري:

- همکاري
- محدود رقابت
- د اختلافاتو مدیریت

په برلین کې د «مرکېټر انستیتوت» څېړونکې هلینا لیګاردا وویل چې د دې هوکړې موخه دا ده چې «اړیکې په متوازن مسیر کې وساتل شي.»

د «آسیا ګروپ» شریک جورج چین هم وویل چې دا تګلاره د جو بایډن د دورې په پرتله یو بدلون ګڼل کېږي؛ ځکه د بایډن پر مهال اړیکې تر ډېره د «ستراتېژیک رقابت» په چوکاټ کې تعریفېدې[10].

## پر افغانستان یې اغېزې

چین ته د متحده ایالاتو د ولسمشر ټرمپ سفر دوه سناریو لرلی شي:

لومړی دا چې دغه سفر د متحده ایالاتو او چین سیالۍ مدیریت کړای شي او اړیکې له خراب حالت څخه ښه حالت ته لاړې شي. په دغه سناریو کې د دواړو قدرتونو ښې اړیکې یا حد اقل د سیالیو کموالی پر افغانستان مثبتې اغېزې لرلای شي. لومړنۍ مثبته اغېزه یې داده چې په سیمه کې به نسبي اقتصادي ثبات رامنځته شي او افغانستان به هم له دې ثبات څخه ګټه واخلي او افغانستان تر بل هر وخت اقتصادي ثبات ته اړتیا لري. همدارنګه د چین د یو کمربند او یوې لارې پروژې پر وړاندې به خنډونه کم شي او افغانستان به هم د دې پروژې د مرکزي اسیا له دهلیز او همدارنګه د سپیک له دهلیز څخه پرته له ستونزو ګټه اخیستلی شي، خو که متحده ایالات سیالۍ ته دوام ورکړي، نو لومړی به د یو کمربند یوې لارې پروژې مخنیوی کوي. د دې ترخنګ په سیمه کې به چینایي پروژې او یا هم د چین له ملاتړ څخه برخمنې پروژې پرته له کوم فشار څخه عملي شي په ځانګړې ډول د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا او له منځنی ختیځ سره د چین د نښلون په برخه کې او که دا پروژې عملي کېږي، نو افغانستان ترې حتماً ګټه پورته کوي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دویمه سناریو دا ده چې د چین او متحده ایالاتو ترمنځ به سیالي او اختلافات دوام وکړي، نو په داسې حالت کې به دغه سیالي پر افغانستان هم منفي اغېزې ولري. لومړنی اغېزه يې دا ده چې په سیمه کې به سیمه ییز بلاکونه او سیالی رامنځته شي، متحده ایالات به په سیمه کې د چین په خلاف خپل متحدین لکه هند، جاپان، جنوبي کوریا او پاکستان استعمال کړي او د دوی استعمال طبعي ده چې پر افغانستان هم اغېزې لري او امکان لري چې افغانستان هم د سیالۍ په ډګر بدل شي. دویمه ستره منفي اغېزه به دا وي چې د افغانستان جغرافیايي موقعیت چې د سیمو د نښلون په نوم یادېږي، د اقتصادي سیالۍ په ډګر بدل شي او دغه ډول سیالۍ په هیڅ حالت کې د افغانستان په ګټه نه دي.

## پایله

چین ته د متحده ایالاتو د جمهور رئیس ټرمپ تر ډېره تشریفاتي بڼه درلوده او عملي لاسته راوړنې يې کمې وې. ځینې لویدیځ شنونکي باور لري چې شي جین پینګ په خبرو کې نسبي برلاسی درلود، ځکه چین د تایوان او اقتصادي فشارونو په موضوعاتو کې خپل دریځ نرم نه کړ.

دواړو مشرانو د ایران د جګړې په اړه خبرې وکړې، خو څه ډول غوښتنه چې د متحده ایالاتو وه چې چین د ایران له ملاتړ څخه لاس واخلي داسې کومه عملي لاسته راوړنه ترسره نه شوه، د هرمز تنګي او تایوان په اړه د چین د ولسمشر غوښتنه دا وه چې هرمز تنګي او تایوان کې د متحده ایالاتو ستونزې نه جوړوي. د دواړو اړخونو له غوښتنو داسې معلومېږي چې دواړه لوري کومې عملي هوکړې ته نه دي رسېدلي دي سره له دې چې چین اعلان وکړ چې دواړو مشرانو د «ستراتېژیک ثبات پر بنسټ د رغنده چین-امریکا اړیکو» پر نوي لیدلوري موافقه کړې ده چې د ټرمپ د دورې تر پای پورې به ادامه پیداکړي.

سره له دې، ټرمپ وویل چې امریکایي شرکتونو او بزګرانو ته مهمې سوداګریزې معاملې شوې دي، خو په عملي دول کومه هوکړه نه تر سترګو کېږي. مسکو دې ناستې ته د شک په نظر نه ګوري، ځکه هغه ډاډه دی چې چین د متحده ایالاتو سره داسې معامله نه کوي چې هغه د چین حیثیت او نړیوال نظام کې واک ته صدمه ورسوي. اروپایان به د دې سفر اقتصادي پایلو ته منتظر دي، خو لا هم د دې سفر عملي اقتصادي لاسته راوړنې نه دي اعلان شوي.

د چین او متحده ایالاتو ترمنځ که اړیکې ښې کېږي، نو دا به د دې سترو قدرتونو ترمنځ سیالي راکمه کړي چې په داسې حالت کې دا پر افغانستان مثبتې اغېزې لري، خو که اړیکې ښې نشي او سیالي نوره هم قوي شي، نو دا به پر افغانستان هم منفي اغېزې ولري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## سرچيني

[1] امیر حیدر. «د رقابت او اړتیا ترمنځ؛ ولې ټرمپ چین ته سفر وکړ؟»، عقاب خپرونکې اداره، ۱۸ مئ، ۲۰۲٦، د لاسرسی وړ لېنک:

[2] Grant Rumley. "The Elephant in the Room: China's Support to Iran", Washington Institute for Near East Policy, May 13, 2026, Access link:

[3] Ibid.

[4] Ibid.

[5] Henry Tugendhat. "Weathering the Latest Skirmish in a Ten-Year Trade War" Washington Institute for Near East Policy, May 13, 2026, Access link:

[6] Elizabeth Dent. "he Gulf Remains Key to U.S.-China Tech Competition", Washington Institute for Near East Policy, May 13, 2026, Access link:

[7] WILL WEISSERT, AAMER MADHANI, KANIS LEUNG, SIMINA MISTREANU, DARLENE SUPERVILLE and HUIZHONG WU. "Takeaways from Trump's trip to China: Taiwan, a new framework for relationship and flattery for Xi", AP News, May 16, 2026, Access link:

[8] Ibid.

[9] Ibid.

[10] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بڼاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000